د افغانستان اسلامي امارت

لوړو زده کړو وزارت

شیخ زاید پوهنتون

ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځی

د عامه اړیکو څانګې

کتلاګ

Islamic Emirate of Afghanistan

Ministry of Higher Education

Khost Shaikh Zayed University

Journalism and Publick Relations faculty

Public Relations faculty

catalog

لړلیک

ګڼه	سرلیک		مخګڼه
۱	د څانګې د امر پیغام		۲
۲	د پوهنځي لنډه تاریخچه		۳
۳	تعریف		۴
۴	لرلید		۴
۵	ماموریت		۴
٦	شعار		۴
۷	ارزښتونه		۵
۸	اصلي موخې		۵
۹	فرعي موخې		۵
۱۰	متوقعه پايلې		۵
۱۱	د عامه اړيکو څانګې پيژندنه		٦
۱۲	کمپيوټر لېب		۷
۱۳	ويب پاڼه		۷
۱۴	فيسبوک پاڼه		۷
۱۵	مهالنۍ		۷
۱٦	شيخ زايد راډيو		۷
۱۷	تواُميتونه		۷
۱۸	د عامه اړيکو بشري ځواک		۸
۱۹	د استادانو بيوګرافي		۹
۲۰	د عامه اړيکو درسي کريکولم		۱۷
۲۱	په HEMIS سيستم کې د عامه اړيکو څانګې معلومات		۲۱
۲۲	په HELMS سيستم کې د عامه اړيکو څانګې معلومات		۲۲

د عامه اړیکو څانګې د آمر پیغام

د نړۍ هر اړخیز پرمختګ د علومو د پراختیا او څېړنو په پایله کې صورت موندلی دی چې په اساس یې د وخت اړتیاؤ او غوښتنو ته حل لارې راویستلې او د نړۍ په هوساینه او پرمختیا کې یې بې کچې بدلون راوستلی. د نړۍ پرمختللي هیوادونه د علم او پوهې له برکته د نړۍ د اوسني بهیر سرلاري دي. که څه هم زموږ ګران هیواد او زموږ ټولنه د لسیزو ناخوالو او بدبختیو له امله له دې ګړندي کاروانه ډېره وروسته پاتې ده؛ خو د دې بدبختیو او وروسته پاتې والي څخه د خلاصون یوه لاره دا ده چې زموږ ټولنه د علم او پوهې په ګاټه سمبال کړو او په دې برخه کې د نړۍ لید لوری او مسیر تعقیب کړو؛ شپه ورځ زیار وباسو او د ملي یووالي روحیه په ولسونو کې راژوندی کړو. په دې برخه کې باید په زده کړه او تحصیل باندې پانګونه وشي، کار اهل کار ته وسپارل شي او له وړ اشخاصو او ځوانانو څخه د هیواد په جوړونه او پرمختګ کې ګټه پورته کړو.

خوشبختانه اوسمهال په هیواد کې ګڼ شمېر دولتي خصوصي پوهنتونونه فعالیت لري چې په بېلا بېلو برخو کې علمي کادرونه ټولنې ته وړاندې کوي. یو له دې پوهنتونونو څخه د شیخ زاید دولتي پوهنتون دی، چې د جنوب ختیځ زون په کچه د باور وړ تحصیلي مرکز دی او تر دې مهاله 12 پوهنځي لري چې یو له هغو څخه یې د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځی دی. یاد پوهنځی په خپل جوړښت کې دوه څانګې، ژورنالیزم او عامه اړیکې لري چې د مارکېټ غوښتنو او اړتیاوو ته په کتو وړ کادرونه روزي او ټولنې ته یې د خدمت په موخه وړاندې کوي.

د عامه اړیکو څانګه چې په 1395ه ل کال د ژورنالیزم پوهنځي په چوکات کې ایجاد شوه، تر دې مهاله یې درې دورې مسلکي کادرونه ټولنې ته د خدمت په موخه وړاندې کړي دي، د یادو فارغانو له جملې څخه یې زیاتره په دولتي او غیر دولتي ادارو کې په دندو بوخت دي. د عامه اړیکو څانګه هوډ لري، چې له کاري شرکاوو سره په بشپړه همغږۍ، په ملي کچه د عامه اړیکو په برخه کې، د علمي، څېړنیزو او مسلکي خدماتو وړاندې کولو له اړخه، یوه مخکښه علمي او مسلکي اداره وي. یاده څانګه په دې برخه کې د نړیوالو پوهنتونونو او د عامه اړیکو نړیوالو سازمانونو د کریکولم او سیلابس په نظر کې نیولو سره ملي ګټو ته ژمن مسلکي کادرونه روزي او ټولنې ته یې د ښه خدمت په موخه وړاندې کوي.

که څه هم د عامه اړیکو دیسپلین په نړیواله کچه دومره سابقه نه لري خو د یاد ډیسپلین اړتیا ته په کتو سره ډېر ژر په نړیواله کچه په پوهنتونونو او علمي مرکزونو کې د یوه علم په توګه ومنل شو او په دې برخه کې د تدریس، څېړنې او تحقیقاتو لاره پرانیستل شوه. د یاد علم او مسلک لوی ارزښت په دې کې دی چې د عامه اړیکو د فعالیت پیل په تحقیق سره کیږي چې لومړی د اړونده ادارو د وضعیت او چاپیریالي مسایلو څخه د اګاهي په موخه باید څېړنه او تحقیق وشي او وروسته د ترلاسه شویو حقایقو او معلوماتو په رڼا کې یو کلي پلان جوړ او د مدیریت سره په همغږۍ عملي کړل شي. د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي په اډانه کې د عامه اړیکو فعالیت او د تحصیلي کریکولم تطبیق ته په کتو سره زه ډاډه یم چې نوموړې اداره به په راتلونکې کې د هیواد په کچه د عامه اړیکو د یوې نوموتې ادارې په توګه تبارز کوي او په دې برخه کې به بېلا بېلو دولتي، غیردولتي، او سوداګریزو ادارو او سازمانونو ته په کار پوهه او مسلکي کادرونه ورکوي چې د هغوی په ګمارنې سره به یاد سازمانونه خپلې موخې او اهداف په ډېره سیستماتیکه توګه ترلاسه کړی شي، په ټولنه کې به ښه او نیک نوم وګټي او خپل دوامداره پرمختګ به وساتلی شي. زه د عامه اړیکو د یوه مسلکي زده کوونکي او تدریس کوونکي په توګه د عامه اړیکو ټولو محصلانو ته دا پیغام ورکوم چې په اړونده برخه کې د لاپرمختګ په موخه بېلا بېلو وړتیاوې او مهارتونه لکه د لیکنې، ډیزاین، پلان جوړونې، مدیریت، اړیکو، مفاهمې، ... ترلاسه کړی ترڅو د عامه اړیکو د یوه بشپړ مسلکي کادر په توګه د هیواد په پرمختګ او جوړونه کې خپل مسؤلیت ترسره کړی.

درنښت

د سوکاله، ښېرازه او پرمختللي افغانستان په هیله!

پوهنیار هارون برهان

د عامه اړیکو څانګې آمر

د عامه اړیکو څانګې تاریخچه

د شیخ زاید په پوهنتون په چوکاټ کې، ژورنالېزم پوهنځی هم نسبتاً اوږده مخینه لري. بنسټ یې د مهاجرت په دیار (پېښور) ښار کې د افغان مهاجرو له خوا د افغان پوهنتون په چوکاټ کې ایښودل شوی دی. د مؤقتې اداري په راتګ سره د خوست ولایت د علم پروره خلکو د بیا، بیا غوښتنو او وخت ولسمشر ښاغلي حامد کرزي د ځانګړي فرمان له مخې افغان پوهنتون له پېښوره خوست ولایت ته را انتقال شو او د خوست پوهنتون په نامه یې علمي فعالیت پیل کړ، چې وروسته د خلیفه فونډېشن له خوا یاد پوهنتون ته د کمپلکس تر جوړېدو وروسته د شیخ زاید په نوم ونومول شو.

په لومړیو کې ژورنالېزم پوهنځي، د شیخ زاید پوهنتون، په چوکاټ کې، د ښوونې او روزنې پوهنځي تر چتر لاندې د ډیپارټمنټ په بڼه فعالیت کاوه. په 1390هـ ش کال کې یې د مستقل پوهنځي موقف تر لاسه کړ. تر یوې مودې یې، تخصصي څانګې نه درلودې او عمومي ژورنالېزم پکې تدرسېده. د وخت اړتیاوو او غوښتنو ته په کتو، بیا پکې د (مطبوعاتو) او (راډیو تلویزیون) دوې تخصصي څانګې جوړې شوې. وروسته د وخت غوښتنو او اړتیاوو ته په کتو، د شیخ زاید، کابل، هرات، مزار او ننګرهار پوهنتونونو، ژورنالېزم پوهنځیو د آمریکا هېواد له ځینو پوهنتونونو لکه: بال سټېټ، نبراسکا، سن جو سټېټ او اریزونا پوهنتونونو سره توأمیتونه لاسلیک کړل. د دې دوه اړخیزه علمي همکاریو په لړ کې، د لوړو زده کړو وزارت له لارې، د یادو پوهنتونونو، ژورنالېزم پوهنځیو د استادانو په هڅه تر یوه بریده د ژورنالېزم پوهنځیو کریکولم اپډېټ او متحد شو. د نوي کریکولم له مخې په ژورنالېزم پوهنځیو کې، د وخت اړتیاوو او غوښتنو ته په کتو د عامه اړیکو ډیپارټمنټ ته ځای ورکړل شو. د یادې پرېکړې له مخې په1395 کال کې د شیخ زاید پوهنتون، ژونالېزم پوهنځي هم د ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی شو؛ پخوانۍ څانګې یې د ژورنالېزم څانګې تر نوم لاندې مدغم او تر څنګ یې د عامه اړیکو نوې څانګه ایجاد شوه.

یاد پوهنځی د شیخ زاید په نوم راډیو لري، چې محصلان په کې تجربوي او تربیوي خپرونې جوړوي. ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځی اوسمهال 14 تنه علمي کادرونه لري او تر اوسه (1401) تحصیلي کال پورې یې 16دورې فارغان ورکړې دي. یاد فارغان د افغانستان په مختلفو دولتي اداراتو، ملي او خصوصي رسنیو کې کار کوي. د دې ترڅنګ د ژورنالیزم پوهنځي فارغین د هیواد په مختلفو پوهنتونونو کې د استادانو، آمرانو، او معاونانو په صفت او همدرانګه په نړیوالو رسنیو کې د ژورنالېستانو په حیث دندې پرمخ وړي.

د عامه اړیکو د ډیپارټمنت تعریف، لرلید، ماموریت، شعار، ارزښتونه او موخې

تعریف

عامه اړیکې یو ستراتیژیک ارتباطی سیستم دی، چې د یوه سازمان او مخاطبانو ترمنځ، پر متقابلو ګټو او دومدارپوهاوي ولاړې، اوږدمهالې ماناوالې اړیکې ټینګوي

لرلید

عامه اړیکو څانګه به د هیواد او سیمې په کچه د مسلکي او معیاري زده کړو، د عامه اړیکو د کاري او علمي څیړنو په برخه کې مخکښه علمي .برنامه وي

ماموریت

عامه اړیکو څانګه د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې په ملي او سمیزه کچه محصلانو ته د معیاري زده کړو او مسلکي مهارتونو د ودې زمینه برابروي؛ څو د ټولنې او کاري مارکیټ غوښتنو او اړتیاو ته په کتو په دولتي او خصوصي ادارو کې د دوه اړخیزو ارتباطاتو د غښتلتیا په موخه مسلکي او ژمن کادرونه ټولنې ته وړاندې کړي.

شعار

د عامه اړیکو دیپارټمنټ؛ د افغانستان په کچه د دوه اړخیز ارتباط لپاره یوازینی علمي او تخصصی مرکز

ارزښتونه

۱ غوره والی، درناوی، اړیکې او لېوالتیا
۲ احتیاج او خدمتونه
۳ ستراتیژیکه سلا او ګډ کار
۴ له ټکنالوجۍ ګټنه
۵ تنوع او د فرصتونو رامنځته کونه
۶ دوامداره پرمختیا
۷ رښتینوالی، درېدا، امانت ساتنه او جوتتیا
۸ برتری، احترام ، مناسبات و جذابیت
۹ ټولنیزوالی
۱۰ تحلیلي ارزونه

اصلي موخه

د افغانستان د دولتي او نادولتي سازمانونو د مسلکي کونې او د ټولګټو پروژو د تګلارجوړونې، طرح او ترسرینې په برخه کې د مشورتي خدمتونو د وړاندې کولو لپاره د عامه اړیکو د متخصصو کادرونو روزنه او وریپژندنه.

فرعي موخې

۱- د عامه اړیکو فارغان به؛ د سازمان د فعالیتونو او مدیریت په برخه کې د خلکو، کارپوهانو او رسنیو د نظرونو او تحلیلونو د راټولونې او وړاندې کونې وړتیا ولري.

۲- د عامه اړیکو فارغان به؛ د سازمان د مدیرانو او کارکوونکیو تر منځ د پوهاوي د روحیې د پیاوړي کونې علمي وړتیا ولري.
۳- د عامه اړیکو فارغان به، د سازمان د کړو وړو په اړه د عامه افکارو د روښانونې په موخه؛ پر وخت د اطلاع رسونې وړتیا ولري.
۴- د عامه اړیکو فارغان به د کړکېچ او د کړکېچ د مخنیوي او د کړکېچ د مهال د ارتباطاتو د مدیریت وړتیا ولري.
۵- د عامه اړیکو ډیپارټمنټ؛ د عامه اړیکو د محصلانو په روزنې سره په اقتصادي، ټولنیزو او سیاسي برخو کې د مسلکي ارتباطاتو بهیر بدای کوي.

متوقعه پایلې

د ټولنیز عدالت، انساني کرامت او ملي هویت د ساتنې په موخه د دیني، ملي او انساني ارزښتونو دودونه.
۱ د افغانستان د کار په بازار کې د عامه اړیکو د متخصصینو روزنه.
۲
۳ په دولتي او خصوصي سکټر او نادولتي مؤسسو کې د دوه اړخیز ارتباطات پرمختیا.
۴ په هېواد کې د څېړنې، نوښت او تالیف پراختیا.

د عامه اړيکو څانګې پېژندنه

د ژورنالېزم او عامه اړيکو پوهنځي تر چتر لاندې، عامه اړيکو څانګه ډېره اوږده تاريخچه نه لري. د وخت غوښتنو او اړتياوو ته په کتو، د نوي متحد شوي کريکولم د تطبيق په موخه، په 1395 کې د ياد پوهنځي پخوانۍ څانګې (مطبوعات او راډيو تلويزون) د ژورنالېزم تر نامه لاندې مدغم شوې او تر څنګ يې د عامه اړيکو په نامه نوې څانګه ايجاد شوه. يادې څانګې په 1398 کال کې لومړۍ دوره محصلان فارغ او ټولنې ته د ښه چوپړ په موخه وړاندې کړل. د يادې څانګې محصلان لومړيو دوو کلونو کې د ژورنالېزم څانګې له محصلانو سره ګډې زده کړې کوي، کريکولم يې يو او ټولګي يې ګډ دي؛ خو په دريېم ټولګي کې د زده کړو تخصصي کېدو په موخه کريکولم او ټولګي سره بېلېږي. ياده څانګه هڅه کوي، چې د ورځنې کاري چاپېريال له اړتياوو او غوښتنو سره سم د عامه اړيکو تخصصي او مسلکي کسان وروزي او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي، څو په بېلابېلو ادارو کې د عامه اړيکو څانګې تقويه کړي او د ادارو هر اړخيزو پرمختياوو ته لار پرانيزي د عامه اړيکو څانګې جوړښت: عامه اړيکو څانګه، د ژورنالېزم او عامه اړيکو پوهنځي تر چتر لاندې فعاليت لري. په دې ديپارتمنت کې د څانګې د آمر په شمول اته 8 تنه کادري غړي دي، چې د يادې څانګې اداري او علمي چارې پر مخ وړي.

کمپیوټر لیب: ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی نسبتاً مجهز کمپیوټر لیب لري. محصلان د لومړنیو کمپیوټري زده کړو او تخصصي پروګرامونو لکه Adobe Audition، Adobe Premier، SPSS او... د عملي زده کړې په موخه روزمره ګټه ترې اخلي. خو د یاد کمپیوټرلیب اوسنی ځای مناسب نه دی؛ د پوهنځی رهبري هڅه کوي، چې مناسب ځای ورته برابر کړي؛ څو د محصلانو Soft Skills لوړولو او مسلکي پرمختیا په موخه له شته امکاناتو اعظمي ګټه واخلي.

وېبپاڼه: د شیخ زاید پوهنتون په وېب سایټ کې، ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی هم خپله وېبپاڼه لري، چې د پوهنځي او کادري غړو اړوند معلومات پکې خپاره شوي دي. همدارنګه یاد پوهنځی په پام کې لري، چې د علمي، اداري او څېړنیزو چارو، محصلانو پروژو او نورو اړوندو معلوماتو د خپراوي لپاره ځانګړې وېب سایټ جوړ کړي.

فېسبوک پاڼه: یاد پوهنځی فعاله فېسبوک پاڼه هم لري، چې د پوهنځي اړوند علمي، کلتوري او... ورځني فعالیتونه، خبرتیاوې، پرمختګونه او مسلکي برخه کې د عامه پوهاوي په پار بېلابېل مسایل خپروي.

مهالنی: ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د چاپي رسنیو په برخه کې د عملي ژورنالېزم تمرین په پار د محصلانو روزنې په موخه په پام کې لري، چې یوه مهالنۍ هم پر مخ یوسي. اوس مهال هم د یاد پوهنځي محصلان د شیخ زاید په نامه مطبوعاتي خپرونې لري، چې سمپلونه یې په کتابتون کې موجود دي.

شیخ زاید راډیو: ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځی، د عملي ژورنالېزم په برخه کې د محصلانو روزنې لپاره، د ځوان غږ په نوم راډیو هم لري، چې په ۱۳۹۰ کال کې رسمي جواز ورته اخیستل شوی او محصلان پکې تجربوي او تربیوي خپرونې پر مخ وړي. په وروستیو کې، د پوهنتون د رهبرۍ په غوښتنه او پوهنځي د خپلمنځي تفاهم له مخې، د یادې راډیو نوم بدل شو، چې فعلا د شیخ زاید راډیو په نامه یادېږي. په دې راډیو کې فعلا محصلان یوازې د خپرونو تولیدي برخه پر مخ وړي او د منظم برق د نشتوالي له امله ژوندي نشرات نه لري.

توامیتونه: د شیخ زاید پوهنتون، ژورنالېزم او عامه اړیکو پوهنځي له ۲۰۱۳ کاله تر ۲۰۱٤ پورې، د امریکا له Ball State پوهنتون سره توأمیت درلود، چې استادانو د لنډمهالو علمي کورسونو او ورکشاپونو اخیستنې په موخه د یاد پروګرام له لارې دبۍ، مالیزیا، امریکا، هند، او ترکیې هېوادونو ته علمي سفرونه وکړل او د دوی د ظرفیت لوړونې لپاره یې ښه زمینه برابره کړې وه. د دې تر څنګ یاد پوهنځي له اطلاعاتو او کلتور ریاست، بېلابېلو پوهنتونونو ژورنالېزم پوهنځیو، سیمه ییزو رسنیو او... ادارو سره د دوه اړخیزه علمي او مسلکي همکارۍ په پار هوکړه لیکونه لري؛ څو د تحصیل پر مهال او له فراغت وروسته د محصلانو لپاره د عملي زده کړو په پار د انټرنشپ پروګرامونو زمینه برابره کړي؛ له بل پلوه به د یاد پوهنځي کادري غړي وخت نا وخت له کاري شرکاوو سره د علمي سیمنارونو او کنفرانسونو په بڼه خپلې علمي تجربې او څېړنیزې پایلې شریکوي. په وروستیو کې یاد پوهنځي د پوهنتون له رهبري او لوړو زده کړو وزارت علمي چارو معینیت سره په همغږۍ، د متواترو هڅو په پایله کې له ډویچه ویله اکاډمي سره د علمي همکارۍ آزمایشي دورې پیلېدو ته لاره هواره کړې ده.

د عامه اړیکو څانګې د برحال استادانو لیست په لاندې توګه ترتیب شوی

1	محمد خان نیازی	لیسانس	پوهنوال
2	اسد الله تنهی	ماستر	پوهندوی
3	رحمت الله هاند	ماستر	پوهنمل
4	فاروق جان منګل	ماستر	پوهنمل
5	هارون برهان	ماستر	پوهنیار
6	واحد الله زیار	ماستر	پوهنیار
7	محمد یوسف ثاقب	ماستر	پوهنمل
8	سهر سبا	لیسانس	نامزد پوهنیار

پوهنیار هارون برهان
د عامه اړیکو ډیپارټمنت آمر

پوهنوال محمد خان نیازی

استاد پوهنوال محمد خان نیازی په ۱۳۵۵ ه ل کال کې د لو ګر ولایت په سپېڅ کلي کې په یوه دینداره کورنۍ کې دې نړۍ ته سترګې پرانیستې دي، په ۱۳۷۱ کال کې د کوهاټ هنګو په سیمه کې د عبدالله ابن مسعود له لیسې څخه فارغ شوی او په ۱۳۷۸ ه ل کال کې د کابل پوهنتون د دژورنالیزم پوهنځي د مطبوعاتو له څانګې څخه د لیسانس سند تر لاسه کړی دی.

استاد نیازی له ۱۳۸٤ه ل کال د شیخ زاید پوهنتون د ښوونې او روزنې پوهنځي کې استادشوی، تر دې دمه یې په لسکونو علمي مسلکي مقالې او علمي اثار (غوره ژورنالیزم، ارتباط، فیچر لینکه، رسنۍ او ټولنه، د اړیکو اساسات، دعامه اړیکو اساسات) د کتابونو په بڼه لیکلي د چاپ په ګاڼه سمبال او ځینې عملا په تدریسي بهیر کې د هېواد د ځانانو تر لاسونو رسېدلي، همدارنګه یې په لسګونو علمي مقالې(تبصره، د عامه افکارو جوړښت، د عامه افکارو ارزښت، عامه رایې، د تبلیغاتو تکتیکونه، د ارتباط ماډلونه، په عامه افکارو د شخصیت اغیز...) لیکلي دي.

استاد نیازی تر دې دمه د ځوانو کدرونو په روزنه کې نه ستړې کېدونکې هڅې کړې دي مصروف دي الله دې اوږد عمر ورکړي

پوهندوي اسدالله تڼی

استاد اسدالله تڼی د الحاج انجینر اصیل بادشاه سلطاني زوی د خوست ولایت د تڼیو ولسوالی اړوند د للمۍ کوتکي اوسیدونکی دی چې په ۱۳۶۲ لمریز کال په خوست کې زیږیدلی دی. استاد تڼي خپلې لومړنۍ زده کړې په ۱۳۶۸ هجري لمریز کال کې د کابل د تڼي کوټ په لیسه کې ترسره کړې . په ۱۳۷۱ لمریزهجري کال کې په هیواد کې د کورنیو جګړو له امله د خپلې کورنۍ سره یوځای خپل پلارني ټاټوبي خوست ته راغی او منځنۍ زده کړې یې د خوست ولایت د حیدرخیلو محمد صدیق روهي عالي لیسه کې ترسره کړی او د لیسي دوره یې د تڼیو ولسوالی ددره ګي په تاریخي لیسه کې پای ته ورسوله، په ۱۳۸٦ لمریز کال د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالیزم له پوهنځي څخه په کدر کې فارغ او د لیسانس په کچه دیپلوم یې تر لاسه کړ. په ۱۳۸۷ لمریز کال نوموړی د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالیزم په پوهنځي کې د نامزد پوهیالی په حیث مقرر شو ، چې په ۱۳۸۸ کال کې یې خپله د نامزدۍ دوره په پوره بریالیتوب سره سرته ورسوله او د پوهیالي اصلي علمي رتبه یې واخیسته. ښاغلی تڼی ۱۳۹۱ هجري لمریزکال کې د شیخ زاید پوهنتون د اداري له خوا د محصلانو په چارو کې د شیخ زاید پوهنتون د مرستیال په توګه وټاکل شو. استاد تڼی په ۱۳۹٦ ه ش کال چې په پوهنتون کې برحال مرستیال و د نړیوال بانک په مالي مرسته د لوړ زده کړو د وزارت په چوکاټ کې د یوې رقابتي سیالی له لارې سکالرشیپ ترلاسه او د لوړو زده کړو په موخه هندوستان هیواد ته سفر وکړ نوموړی د هندوستان په نوی دهلي ښار د جامعه ملیه اسلامیه معتبر پوهنتون کې د سیاسي علومو ډیپارتمنټ د عامه اداري په څانګه کې لوړې زده کړې وکړې او د ماسترۍ سند یې ترلاسه کړو. استاد تڼی په ۱۳۹۸ کال کې د پوهنیارۍ علمي رتبې درې کلنه دوره پاي ته ورسیده او د پوهنمل علمي رتبه یې ترلاسه کړه. او په دوامداره پرمختګ کې د رسنیو رول تر عنوان لاندې د ماسترۍ تیزیس یې د افغانستان د لوړو زده کړو وزارت لخوا د اصلي اثار په توګه ومنل شو او د پوهنیارۍ علمي رتبې څخه یې پوهنمل علمي رتبې ته ارتقا وکړه او په ۱٤۰۲ کال کې یې د پوهنمل علمي رتبې درې کلنه دوره پای ته ورسوله او د پوهندوی علمي رتبه یې ترلاسه کړه. په ۲۰۱۸ کال کې د ماسټري دورې په بریالیتوب سره پای ته رسولو او هېواد ته له راستنیدو وروسته یې د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالیزم او عامه اړیکو په پوهنځي کې بیرته د استادۍ مقدسه دنده پیل کړه، پوهندوی اسدالله تڼي په هېواد کې د ننه او باندې په لسګونو روزنیزو برنامو کې ګډون کړی او د ژورنالیزم په ډګر کې یې په زرګونو ځوانان روزلي دي او همداشان د ۱۳۸۵ کال څخه تر ۱۳۸٦ کال پورې د بي بي سي تعلیمي پروګرامونو د سپینو خبرو لپاره په خوست کې د خبریال په توګه دنده ترسره کړه.

استاد په پښتو، دري او انګلیسي ژبو رواني خبرې کوي او همدارنګه نوموړي د بیلابیلو چاپي او انلاین رسنیو لپاره یو شمیر سیاسي، څېړنیزې او مسلکي لیکنې کړي او خپرې شوي دي.او ترټولو مهمه داچې په معتبراو منل شویو نړیوالو علمي ژورنال کې یې هم علمي مقاله منل شوی او خپاره شوي ده.

- د غوره انځور اساسات ژباړه علمي اثار
- د بیان ازادي او د رسنیو ملکیت څېړنه د شیخ زاید پوهنتون په علمي مجله کې چاپ شوي ده .
- په ښه حکومتداری کې د مدني ټولنې رول څېړنه د شیخ زاید پوهنتون په علمي مجله کې چاپ شوی ده.
- Organization of the Islamic Conference (OIC) and its Journalistic efforts څېړنه ده چې د Integrated Journal for Research in Arts and Humanities (IJRAH) په معتبر نړیوال علمي ژورنال کې خپاره شوی ده. www.ijrah.com
- A case Study on Role of Media in Sustainable Development څېړنه ده چې د International Organization of Scientific Research (IOSR) په معتبر نړیوال علمي ژورنال کې خپاره شوی ده. www.iosrjournals.org

پوهندوی تڼي د خپلې دندې پرمهال بیلابیلو هیوادونو لکه امریکا متحده ایالاتو ، ترکیه، مالیزیا ، انډیا او متحده عربي امارتو ته په رسمي توګه علمي سفرونه کړي دي.

پوهندوی اسدالله تڼی د نورو ښیګڼو ترڅنګ ټولنیز، نرم او صادق ، نوښتګر او مثبت فکره دی. تل د نورو لپاره د پرمختګ فکر کوي هڅه یې داده، چې په کاري چاپیریال کې نوښتونه او ابتکارات وکړي.

پوهنمل محمد یوسف ثاقب

محترم پوهنمل محمد یوسف ثاقب د محمد خان زوی په ۱۹۸۸م کال کې دې نړۍ ته سترګې غړولې دي. نوموړي لومړنۍ او ثانوي زده کړې د هجرت پر مهال په کوزه پښتونخواه کې ترسره کړې دي. د لوړو زده کړو په موخه په ۱۳۸۷ ه ل کال شیخ زاید پوهنتون (Shaikh Zayed University)، ژورنالیزم پوهنځي ته بریالی او په ۱۳۹۰ ه ل کال کې له یاد پوهنځي څخه په لوړه درجه فارغ شو.

د همدې کال په اوږدو کې د کادري ازموینې په پایله کې په ژورنالیزم پوهنځي کې د علمي کادر په توګه وکمارل شو او تر دې مهاله په یاد پوهنځي کې د استاد، د عامه اړیکو څانګې د آمر او اوسمهال د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي د سرپرست رئیس په توګه وظیفه ترسره کوي.

ښاغلي ثاقب د دندې پر مهال په بېلا بېلو ملي او نړیوالو علمي کنفرانسونو او ورکشاپونو کې ګډون کړی دی او خپلې تجربې او زده کړې یې له ګډونوالو او ګرانو محصلانو سره شریکې کړې دي. د دې علمي سفرونو او لاسته راوړنو په لړۍ کې ښاغلي ثاقب د (Afghanistan Journalism Education Enhancement Program) پروګرامونو د تعقیب په موخه په ۲۰۱۳ م کال هندوستان، په ۲۰۱٤ م کال د امریکا متحده آیالاتو بالسټېټ پوهنتون (Ball State University) او د همدې کال په اواخرو کې په ترکیې هیواد کې جوړ شوي علمي کنفرانس او روزنیزه ورکشاپ کې ګډون وکړ او هر ځل یې له یادو علمي پروګرامونو څخه پوره لاسته راوړنې درلودلې دي.

ښاغلي پوهنمل محمد یوسف ثاقب په ۲۰۱۹ م کال د هندوستان د یوه مشهور او معتبر پوهنتون (Lovely Professional University) څخه د عامه اداري او پالیسۍ په برخه کې د لوړو نمرو په ترلاسه کولو سره د ماسټري سند ترلاسه کړ چې په پایله کې یې د یو لړ ځانګړو مراسمو په ترڅ کې په هندوستان کې د افغانستان اسلامي جمهوریت د وخت سفیر له لوري ستاینلیک هم ورکړل شو.

باید یادونه وکړو چې محترم پوهنمل محمد یوسف ثاقب د ماسټرۍ د لوړو زده کړو په جریان کې په بېلا بېلو علمي پروګرامونو او کنفرانسونو کې ګډون کړی او له دې پرته یې د څېړنې په برخه کې د افغانستان د یوې سترې ملي او سیمه ییزې پروژې تاپي (TAPI) په اړه چې د هیواد د پرمختګ او سیمه ییز ثبات په له پاره حیاتي حیثیت لري، د ماسټري تیزس لیکلی دی او له دې سره سره یې درې علمي مقالې هم لیکلې چې په بېلا بېلو نړیوالو ژورنالونو کې خپرې شوې دي. له دې پرته نوموړي د ژورنالیزم په ډګر کې د تلویزیوني راپور تدریسي چپټر لیکلی او د عامه اړیکو په برخه کې یې د عامه اړیکو د کمپاین جوړونې او مدیریت (Planning and Managing Public Relations Campaigns) علمي اثر په ژباړه بوخت دی چې په نږدې راتلونکي کې به ان شاءالله بشپړ شي.

پوهنمل فاروق جان منګل

پوهنمل فاروق جان منګل، د ډاکټر حیات خان زوی شاوخوا دري نیمي لسیزې دمخه د کډوالۍ پرمهال د ډیورنډ فرضي کرښې اخوا د هنګو اړوند د کاهي په پنډغالي کې زېږېدلی دی. تر پنځم ټولګي یې زده کړې د کډوالو په یوه ابتدایه ښوونځي کې کړې، وروسته یې د خیبرماډل های سکول په نوم په یوه خصوصي ښوونځي کې خپلې زده کړې مخته بوتلې. په ۲۰۰۳ کال د نورو کډوالو ترڅنګ د پوهنمل فاروق جان منګل کورنۍ هم خپل ګران هېواد ته راستانه شوه. د لیسې دورې زده کړې یې د اسماعیل خیلو او مندوزیو ولسوالۍ اړوند د محمد صدیق روهي په لیسه کې بشپړې کړې. وروسته د کانکور د ازمویني له لارې د شېخ زاید پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځی ته بریالی شو او د پوهنتون څلور کلنه دوره یې خورا په بریالتیوب سره پای ته ورسوله. پوهنتون ته له تګ سره سم یې د دندو اخیستو لړۍ هم پیل شوه. د شیخ زاید پوهنتون اړوند د ځوان غږ په نوم راډیو کې یې کار پیل کړ، هم مهاله یې له یو شمېر سیمه ییزو رسنیو سره هم کار کاوه. په ورته وخت کې یې د UNOPS په یوه پروژه کې د سوپروایزر دنده پر مخ وړه. په ۲۰۰۸ کال کې د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي څخه له فراغت وروسته په سویل ختیز زون کې د میډیوتیک ـ افغانستان د رسنیزې برخې د مشر په توګه وټاکل شو او دري کاله وروسته په سویل ختیز زون کې د میډیوتیک ـ افغانستان عمومي مشر وټاکل شو. په ۲۰۰۹ کال کې یې د نړۍ د مشهورې او بااعتباره ورځپاڼې New York Times سره کار پیل کړ او د سویل ختیز زون ترڅنګ یې د هېواد دسیاسي، امنیتي ، اقتصادي او نورو مسایلو په تړاو په لسګونو راپوورونه نشرشول. په عین وخت کې ښاغلی منګل په سویل ختیز زون کې د (International Media Support)IMS استازی وه،چې د ژورنالیستانو او رسنیو د کارکونکو د خوندیتوب او ملاتړ لپاره یې کار کاوه. وروسته د IMS په چوکاټ کې یوه کمیټه AJSC (Afghan Journalists Safety Committee)جوړه شوه، چې په سویل ختیز کې یې ښاغلي منګل استازیتوب کاوه. په ۲۰۱۳کال کې د یوې سختې او شفافې کادري ازموینې له لارې د شیخ زاید پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځي رسمي استاد وټاکل شو. په ۲۰۱٦ کال کې یې د نړیوال بانک څخه د ماسټرې سکالرشیپ ترلاسه کړ او د عامه اداري او پالیسي په برخه کې د ماسټرې د لوړو زده کړو لپاره دهند هېواد ته وکوچیده. په ۲۰۱۸ کال کې یې د ماسټرې دوره هم په بریالیتوب سره پای ته ورسوله. داچې ښاغلي منګل د ژورنالیزم په ډګر کې مخینه درلوده له ۲۰۱۷ کال څخه تر ۲۰۱۸ کال پورې یې د ال انډیا راډیو، چې د هند په نوي ډهلي کې موقیت لري د پښتو څانګې د پروډیوسر په توګه کار وکړ.

په ۲۰۱۸ کال کې د ماسټري دورې په بریالیتوب سره پای ته رسولو او هېواد ته له راستنیدو وروسته یې د شیخ زاید پوهنتون د ارتباطاتو او ژورنالیزم په پوهنځي کې بیرته د استادۍ مقدسه دنده پیل کړه. د شیخ زاید پوهنتون او د لوړو زده کړو وزارت په لزوم دید ښاغلی منګل په ۲۰۱۹ کال کې د شیخ زاید پوهنتون د استادانو چارو او معلوماتي بانک د امر په توګه وټاکل شو او لا تراوسه د استادۍ د مقدسې دندې ترڅنګ د استادانو چارو او معلوماتي بانک د امر په توګه دنده پرمخ وړي.

پوهنمل فاروق جان منګل په هېواد کې د ننه او باندې په لسګونو روزنیزو برنامو کې ګډون کړی دی، د بېلابېلو اړینو موضوعاتو په تړاو یې لنډ مهالې او اوږد مهالې روزنه ترلاسه کړې او د یوه ښه روزنکي په توګه ثابت شوی دی او په بېلابېلو ډګرونو کې یې په سلګونو ځوانان روزلي دي.

پوهنمل رحمت الله هاند

محترم پوهنمل رحمت الله هاند د احسان الله زوی په۱۳۶۷کال کې د مردیخیلو په کلي کې دې نړۍ ته سترګې غړولي دي. نوموړي لومړنۍ او ثانوي زده کړې د الفتحې په مرکزي لیسه کې ترسره کړې دي. د لوړو زده کړو په موخه په ۱۳۸۷ ه ل کال شیخ زاید پوهنتون (Shaikh Zayed University)، ژورنالیزم پوهنځي ته بریالی او په ۱۳۹۰ ه ل کال کې له یاد پوهنځي څخه په لوړه درجه فارغ شو.

د همدې کال په اوږدو کې د کادري ازموینې په پایله کې په ژورنالیزم پوهنځي کې د علمي کادر په توګه وکمارل شو او تر دې مهاله په یاد پوهنځي کې د استاد، د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي د معاون په توګه وظیفه ترسره کړې ده.

ښاغلي هاند د دندې پر مهال په بېلا بېلو ملي او نړیوالو علمي کنفرانسونو او ورکشاپونو کې ګډون کړی دی او خپلې تجربې او زده کړې یې له ګډونوالو او ګرانو محصلانو سره شریکې کړې دي. د دې علمي سفرونو او لاسته راوړنو په لړۍ کې ښاغلي هاند د (Afghanistan Journalism Education Enhancement Program) پروګرامونو د تعقیب په موخه په ۲۰۱۳ م کال هندوستان، په ۲۰۱٤ م کال د امریکا متحده آیالاتو بالستېټ پوهنتون (Ball State University) او د همدې کال په اواخرو کې په ترکیې هیواد کې جوړ شوي علمي کنفرانس او روزنیزه ورکشاپ کې ګډون وکړ او هر ځل یې له یادو علمي پروګرامونو څخه پوره لاسته راوړنې درلودلې دي.

ښاغلي پوهنمل رحمت الله هاند په ۲۰۱۸ م کال د چین د یوه مشهور او معتبر پوهنتون (هېبې پوهنتون) څخه د ژورنالېزم او کمیونیکیشن په برخه کې د لوړو نمرو په ترلاسه کولو سره د ماسټرۍ سند ترلاسه کړ.

باید یادونه وکړو چې محترم پوهنمل رحمت الله هاند د ماسترۍ د لوړو زده کړو په جریان کې په بېلا بېلو علمي پروګرامونو او کنفرانسونو کې ګډون کړی ،له دې سره سره یې دری علمي مقالې هم لیکلې چې په بېلا بېلو نړیوالو ژورنالونو کې خپرې شوې دي. سربېره پردې استاد په پوهنځي کې د مفاهمې اساسات، د خبرنې اصول، ایس پي ایس ایس او د Audio Production او نور مسلکي مضامین تدریس کړي دي.

محترم استاد اوس مهال د چین هیواد ته د آزادو سکالرشیپونو له لارې بیا هم چین ته د دوکتورا برنامې د ترسره کولو په موخه تللی دی.

پوهنیار هارون برهان

استاد هارون برهان د متقاعد مدیر محمد علیشاه زوی، چې په ۱۹۹۲/۱۲/۱۲ میلادي کال د خوست ولایت د شمل پیرانو شینکۍ کلي کې د استاد نورعلي شاه په متدینه کورنۍ کې خپلې سترګې نړۍ ته غړولي دي. ښاغلي استاد برهان خپلې لومړنۍ زده کړې د شمل پیرانو عالي لیسه کې سرته رسولي دي او په ۲۰۱۳ میلادي کال کې د یادې لیسې څخه په عالی درجه فارغ شو.

وروسته له فراغت ښاغلی برهان د کانکور ملي ازموینې له لارې په ۲۰۱۳ کال کې د خوست شیخ زاید پوهنتون د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي ته بریالی او په ۲۰۱٦ میلادي کال کې له یاد پوهنځي څخه په عالی درجه فارغ شو.

استاد برهان د فراغت وروسته سم د لاسه د کلید ګروپ/ د کلید رادیو د خوست څانګې سره د پښتو پروګرامونو او خبرونو د پرډیوسر په حیث دنده پیل کړه، چې وروسته له یو کال په یاده رسنۍ کې د دري خبرونو د پروډیوسر په حیث دنده تر سره کړه. په عین حال کې استاد برهان د کلید او مرسل مجلو او ویب سایټ لپاره هم تولیدي راپورونه، خبرونه او د فیچر لیکنې په برخه کې کار وکړ.

سربیره پردې استاد برهان د کلید رادیو په چوکاټ کې د اسیا فاونډېشن په مالي مرسته په (په رسنیو کې د ښځو د تقویې) پروګرام کې د مسلکي ټرینر په حیث دنده تر سره کړې ده او په عین حال کې یې د میډیا مارک خصوصي شرکت سره د جنوب ختیځ زون په کچه د رسنیو د منیټور په ډول دنده تر سره کړه.

په ۲۰۱۸ کال ښاغلی برهان د شیخ زاید پوهنتون د ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي د عامه اړیکو په څانګه کې د نامزد پوهنیار په حیث مقرر شو.

د شیخ زاید پوهنتون لپاره استاد برهان د لوړو زده کړو وزارت په غوښتنه د (EdX) نړیوال پلاټ فارم کې د ویډیوګرافر او ایډیټر په توګه وګمارل شو.

استاد هارون برهان په ۲۰۲۱ میلادي کال کې د لوړو زده کړو وزارت څخه د (ICCR) رقاتبي او رسمي سکالرشیپونو له لارې هندوستان هیواد ته د عامه اړیکو او اعلاناتو په برخه کې د ماستري برنامې لپاره لاړو. استاد برهان د هند بنګلور نړیوال پوهنتون کې په ۲۰۲۲ کال کې د غوره او ممتاز محصل مقام تر لاسه کړ او د ممتاز محصل په توګه یې د ماستري سند تر لاسه کړ.

استاد برهان له ۲۰ څخه په زیاتو نړیوالو او داخلي علمي ورکشاپونو او کنفراسونو کې چې د تدریس میتودلوژي، تحقیق، د ارتباطاتو اړوند او مسلکي برخو اړوند دي برخه اخیستي ده.

اوس مهال ښاغلی برهان د عامه اړیکو څانګې د آمر په توګه اداري او تدریسي چارې مخکې وړي.

پوهنیار واحدالله زیار

استاد واحدالله زیار د میرام خان زوی د خوست ولایت ځاځیمیدان ولسوالۍ اړوند الګډې بیداد کلي اوسیدونکی ده، چې په ۱۳۷۳ د ثور په ۱۱ مه نیټه په پورتني کلي کې زیږېدلی ده.

زده کړې

استاد زیار خپلې لومړنۍ زده کړې په ۱۳۸۵ هجري لمریز کال کې په خپل پلارني کلي کې بشپړې کړې. منځنۍ او د لیسې دورې زده کړې یې په ۱۳۹۱هجري لمریز کال کې د ځاځیمیدان ولسوالۍ الګډې په عالي لیسه کې پای ته ورسولې.
په ۱۳۹۳ لمریز کال نوموړی د لوړو زده کړو په موخه د کانکور ازموینه ورکړه، چې د نوموړي پوهنتون د ژورنالیزم پوهنځی ته بریالی شو او په ۱۳۹۶ لمریز کال کې د شیخ زاید پوهنتون له ژورنالیزم له پوهنځي څخه فارغ شو.
استاد په ۱۳۹۷ لمریز کال کې په شیخ زاید پوهنتون کې کدري ازموینه ورکړه، چې له مخې یې د یاد پوهنتون په ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځي کې د رسمي استاد په توګه تقرر ترلاسه کړ. په ۱۳۹۹ هجري لمریز کال کې قزاقستان هیواد ته د ماستري زده کړو لپاره ولېږل شو؛ چې په ۱٤۰۲ هجري لمریز کال کې یې، د قزاقستان له الفارابي ملي پوهنتون ژورنالیزم پوهنځي څخه د Media Communication په برخه کې د ماستري سند ترلاسه کړ.

نامزد پوهنیار سهار سبا

استاد سهار سبا د سردار زوی، د خوست ولایت مرکز اړوند متون ورغه کلي اوسیدونکی، چې په ۱۳۷۳هجري لمریز کال د ثور په۲٤ مه نیټه متون ورغه کلي کې زیږېدلی دی.

زده کړې:

استاد سهار سبا خپلې لومړنۍ او منځنۍ زده کړې په خپل پلارني کلي(ورغه کلي عالي او مرکزي لیسه) او د لیسې دورې زده کړې یې په ۱۳۹۲ هجري لمریز کال په الفتح عالي او مرکزي لیسه کې پای ته ورسولې. په ۱۳۹۳ لمریز کال کې یې د لوړو زده کړو په موخه د کانکور ازموینه ورکړه، چې یاده ازموینه کې د خوست ولایت میخانیکي انستیتیوت ته بریالی او په ۱۳۹٤ کال کې له خوست میخانیکي انستیتیوت فارغ او د دوهم ځل لپاره یې په ۱۳۹۵ هـجري لمریز کال د کانکور ازموینه کې ګډون وکړ، چې دا ځل د خوست شیخ زاید پوهنتون ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځي عامه اړیکو څانګې ته بریالی او په ۱۳۹۸ لمریز کال د شیخ زاید پوهنتون له ژورنالیزم او عامه اړیکو پوهنځي عامه اړیکو څانګې څخه فارغ شو. استاد په ۱٤۰۲ لمریز کال کې په شیخ زاید پوهنتون کې کادري ازموینه ورکړه، چې له مخې یې د یاد پوهنتون په ارتباطاتو او ژورنالیزم پوهنځي، عامه اړیکو څانګه کې د رسمي استاد په توګه تقرر ترلاسه کړ.

برنامه درسی هشت سمستر تحصیلی دیپارتمنت روابط عمومی با گرایش اقتصادی پوهنحی های ژورنالیزم و ارتباطات جمعی پوهنتون های افغانستان

صنف اول

سمستراول

شماره	مضمون	نوعیت مضمون	تعداد کریدت
1	انگلیسی1	اساسی	2
2	تاریخ معاصر افغانستان	پوهنتون شمول	2
3	ساینس رسانه یی 1	اساسی	2 (سه ساعت در هفته)
4	دری1(صرف)	اساسی	2
5	پشتو 1 (صرف)	اساسی	2
6	تقافت اسلامی1	پوهنتون شمول	1
7	کمپیوتر 1	اساسی	2 (درقالب سه تا چهار ساعت تیوری و عملی)
8	مبناهای ارتباطات	اختصاصی	2
9	ریاضی(آمار و احصاییه)	اساسی	2

مجموع کریدت 17

سمستر دوم

شماره	مضمون	نوعیت مضمون	تعداد کریدت
1	انگلیسی 2	اساسی	2
2	دری2 (نحو)	اساسی	2
3	پشتو2 (نحو)	اساسی	2
4	ثقافت اسلامی2	پوهنتون شمول	1
5	مبناهای اقتصاد	اساسی	2
6	تاریخ ژورنالیزم افغانستان	اختصاصی	3
7	مبناهای ژورنالیزم	اختصاصی	2
9	مبناهای جامعه شناسی	اساسی	2
9	ساینس رسانه یی2 (فناوری اطلاعات و ارتباطات)	اساسی	2

مجموع کریدت 18

صنف دوم

سمستر اول

شماره	مضمون	نوعیت مضمون	تعداد کریدت
1	خبرنویسی در مطبوعات و وب	اختصاصی	3 (پنج ساعت در هفته)
2	فوتو ژورنالیزم (نظری و عملی)	اختصاصی	4
3	انگلیسی 3	اساسی	2
4	ثقافت اسلامی3	پوهنتون شمول	1
5	مبناهای حقوق	اساسی	2
6	کمپیوتر2(کول ادیت یا آدوب آیودیشن) نظر به ضرورت، پوهنحی ها در برنامه درسی آزاد هستند.	اساسی	2
7	تاریخ رسانه های جهان	اختصاصی	3
8	محیط زیست	پوهنتون شمول	1
9	**دری3 (انشاء و نکارش)**	**اساسی**	**2**

مجموع کریدت‌ها **20**

سمستر دوم

شماره	مضمون	نوعیت مضمون	تعداد کریدت
1	رسانه و جامعه	اختصاصی	4
2	خبرنویسی در رادیو تلویزیون	اختصاصی	3 (چهار ساعت د رهفته،نظری و عملی)
3	فناوری جدید (تکنولوژی) رسانه‌یی	اختصاصی	3
4	انگلیسی 4	اساسی	2
5	ثقافت اسلامی4	پوهنتون شمول	1
6	ویراستاری(ادیتنگ) و مدیریت خبر	اختصاصی	2
7	گزارشگری در مطبوعات	اختصاصی	3 (چهار تا پنج ساعت در هفته) نظری و عملی
8	پشتو3 (انشاء و نگارش)	**اساسی**	2

مجموع کریدت **20**

صنف سوم

سمستر اول

شماره	مضمون	نوعیت مضمون	تعداد کریدت
1	مبانی روابط عمومی	اختصاصی	4
2	ثقافت اسلامی 5	پوهنتون شمول	1
3	حقوق و اخلاق در رسانه	اساسی	4
4	افکار عمومی و تبلیغات	اساسی	3
5	مبانی تبلیغات تجارتی	اختصاصی	4
6	گونه های تحلیلی	اختصاصی	2

مجموع کریدت 18

سمستر دوم

شماره	مضمون	نوعیت مضمون	تعداد کریدت
1	روابط عمومی رسانه ای (عملی)	اختصاصی	2
2	ثقافت اسلامی 6	پوهنتون شمول	1
3	کمپاین روابط عمومی	اختصاصی	3
4	اصول تحقیق	اساسی	2
5	گزارشگری تحقیقی	اختصاصی	2
6	روابط عمومی پیشرفته	اختصاصی	3
7	نوشتن استراتژیک برای سازمان ها	اختصاصی	3
8	کمپیوتر3(اکسیز و اس پی اس اس) پوهنخی ها در انتخاب نرم افزار دست باز دارند.	اساسی	2

مجموع کریدت 18

صنف چهارم

سمستر اول

شماره	مضمون	نوعیت مضمون	تعداد کریدت
1	مونوگراف / کار آموزی		5
2	ثقافت اسلامی 7	پوهنتون شمول	1
3	یک مضمون انتخابی روابط عمومی	اختیاری	3
4	مسایل اقتصادی کشورهای جهان سوم	اساسی	2
5	جغرافیای اقتصادی	اساسی	2
6	روابط عمومی درنهادهای اقتصادی	اختصاصی	3
7	اقتصاد بین المللی	اساسی	3

مجموع کریدت 19

سمستر دوم

شماره	مضمون	نوعیت مضمون	تعداد کریدت
1	مدیریت روابط عمومی	اختصاصی	2
2	مونوگراف/کارآموزی		6
3	ثقافت اسلامی 8	پوهنتون شمول	1
4	سیاست های اقتصادی	اساسی	2
5	روابط عمومی درنهادهای تجاری	اختصاصی	3
6	ارتباطات یکپارچه بازاریابی	اختصاصی	4

مجموع کریدت 18

قرار شرح فوق کریکولم هشت سمستر تحصیلي دیپارټمنت روابط عمومی با گرایش اقتصادی پوهنحی ژورنالیزم و ارتباطات جمعی در 148 کریدت ترتیب، صحت و تقدیم است.

د عامه اړیکو څانګې د (HEMIS) یا د انلاین معلوماتو د مدیریت سیستم په اړه معلومات

عامه اړیکو څانګه د لوړو زده کړو په آنلاین (HEMIS) سیستم کې د خپلو معلوماتو د مدیریت سیستم لري، چې د څانګې اړوند ټول معلومات پکې خوندي دي او هر وخت د لاس رسي وړ دي. د څانګې په کچه په یاد سیستم کې د آمریت له لوري په دوو برخو کې معلومات درج او ثبت کیږي، چې یو یې د فارغو محصلانو د مونوګرافونو ډیټابس دی او بل هم د څانګې موجوده کریکولم ثبت او راجستر دی. د یاد سیستم په اساس د لوړو زده کړو وزرات له لوري ټول اعلانات او اطلاعاتو ته د عامه اړیکو څانګې آمریت لاس رسی لري پر وخت د ورازت غوښتنو ته رسیده کوي.

د عامه اړیکو څانګې د (HEMIS) په سیستم کې د کریلکوم د ثبت په اړه معلومات

د عامه اړیکو څانګه د (HEMIS) په سیستم کې ټول هغه مضامین ثبت او ترتیب کړي دي، چې د فعلي کریکولم په اساس تدریسیږي.

د عامهه اړیکو څانګې په (HEMIS) سیستم کې د مونوګرافونو ډیټابس:

د عامه اړیکو څانګه تر دې مهاله د ۱۳۹۰ کال راهسې په (HEMIS) کې د ټولو محصلانو مونوګرافونه ثبت او راجستر کړي دي.

د عامه اړیکو څانګې د (HELMS) یا د انلاین زده کړو د مدیریت سیستم په اړه معلومات:

د عامه اړیکو څانګه د لوړو زده کړو وزرات په آنلاین (HELMS) سیستم کې آنلاین تدریسي سیستم لري، چې د څانګې اړوند ټول مضامین پکې په آنلاین ډول تدریسیږي او هر وخت محصلانو ته د لاس رسي وړ دي. یاد سیستم چې د کرونا اوبا پر مهال ډېر اغیزمن وو تر اوسه په منظم ډول درسونه پکې تدریسیږي. د بېلګې په ډول یې د یو استاد کورس انځورنه دته مشاهدې ته وړاندې کوو.

شېخ زاید راډیو په اړه معلومات:

عامه اړیکو څانګه د ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځي په چوکاټ کې، د عملي کار په برخه کې د محصلانو روزنې لپاره، د شېخ زاید په نوم راډیو هم لري، چې په ۱۳۹۰ کال کې رسمي جواز ورته اخیستل شوی او محصلان پکې تجربوي او تربیوي خپروني پر مخ وړي. په دې راډیو کې فعلا د عامه اړیکو محصلان یوازې د رسنیزو عامه اړیکو او به رسنیزو برنامو کې د ګډون او د اداراتو د نماینده ګی له تمرین څخه برخمن دي او د منظم برق د نشتوالي له امله ژوندي نشرات نه لري. د عامه اړیکو محصلان دلته زده کوي، چې د اداراتو په استاذیتوب څنګه په رسنیزو برنامو برخه واخلي.

د عامه اړیکو څانګې د کمپیوټر لیب په اړه معلومات

ارتباطاتو او ژورنالېزم پوهنځی نسبتاً مجهز کمپیوټر لېب لري. محصلان د لومړنیو کمپیوټري زده کړو او تخصصي پروګرامونو لکه Adobe Audition، Adobe Premier، SPSS او... د عملي زده کړې په موخه روزمره ګټه ترې اخلي. خو د یاد کمپیوټرلېب اوسنی ځای مناسب نه دی؛ د پوهنځی رهبري هڅه کوي، چې مناسب ځای ورته برابر کړي؛ څو د محصلانو Soft Skills لوړولو او مسلکي پرمختیا په موخه له شته امکاناتو اعظمي ګټه واخلي.

د عامه اړیکو څانګې مجهز درسي ټولګي

عامه اړیکو څانګه د خپل تدریسي بهیر لپاره په پروجیکټور سمبال مجهز ټولګي لري. باید یادونه وشي، چې د عامه اړیکو څانګې اول او دوهم ټولګي چې د ژورنالېزم سره اکثریت شریک مضامین لري په شریکو ټولګیو کې درس وایي.